AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: احمد شاه راشد
د پوهنتون استاد او څیړونکی

٢٠٢١/٠١/٠٨

# شاه امان الله خان او د هغه اقتصادي اصلاحاتو ته کتنه

**مقدمه**

افغانستان خپله خپلواکي د شاه امان الله خان د واکمنی په وخت کي تر لاسه کړه. شاه امان الله خان په ١٨٩٢م کال کي په کابل کي وزېږېد، د پلار تر مړيني وروسته د ١٩١٩م کال د فبرورۍ مياشتي پر ٢٧ مه نېټه د سلطنت پر تخت کېنیناست. د سلطنت مقام ته تر رسېدلو وروسته ډېر زر د افغانستان د سياسي خپلواکی د اخستلو په تکل کي شو.[١][٢]

خو انګلستان، چي افغانستان يې په سياسي لحاظ تر ولکي لاندي ؤو، د شاه دغه غوښتنه ونه منله، چي په پايله کي يې د افغان انګليس دريمه جګړه پيل شوه تر لنډې جګړې وروسته انګلیسانو د افغانستان آزادي په رسميت وپېژندله، شاه امان الله خان ١٢٩٨لمريز (١٩١٩م) د اسد مياشتي پر ٢٨ مه نېټه د افغانستان خپلواکي اعلان کړه.[٣]

دا ورځ هر کال په افغانستان کي د پرتمينو مراسمو په لړ کي لمانځل کيږي روان لمريز کال(١٣٩٨)د افغانستان د خپلواکۍله سلمي کليزې سره برابر ده، چي د حکومت له لوري د شانداره مراسمو په لړ کي ولمانځل شوه د يادولو وړ ده، چي د سلمي کليزې په پار ځيني تاريخي ځايونه هم ورغول شول د دارالامان مانۍ او د جبل الاسراج مانۍ ګانې يې ښه مثالونه دي.[٤]

**د غازي امان الله خان له لوري تر سره شويو کارونو ته ځغلنده کتنه:**

شاه امان الله خان د ١٢٩٨ (١٩١٩م) لمريز کال د فبرورۍ مياشتي په ٢٨ مه نېټه په تاريخي اعلاميه کي د خپلي حکومتولی د عمده موخو په اړه داسي يادونه کړي وه: (کله چي خپل غيور ملت زما په سر باندي د پاچاهی تاج کېښود نو ما هم هوډ وکړ، چي خپل هېواد به د نورو آزادو هېوادونو په شان د هېواد په دننه او بيرون کي به آزادي ورته تر لاسه کوم، افغانان د هېواد په دننه کي له کاملي آزادۍ نه برخمن دي له هر ډول ظلم او ستم نه مصؤون دي او دوی بايد يوازې د قانون تابعدار و اوسي هر نوع کار، چي په هره برخه کي وي هغه ممنوع دی. زما حکومت به په هېواد کي اړين مثبت بدلونونه راولي تر څو زموږ هېواد د نړۍ د نورو هېوادونو سره هغه ځای خپل کړي چي ورته اړتيا ده. او زه به د هېواد په امورو کي له مشورې کار اخلم او د مشورې په پايله کي به يو کار سرته رسوم).[٥]

شاه امان الله خان د خپلواکی او نړيوال پېژندګلوی له اخستلو سره دا يې لومړنی لاسته راوړنه وه چي په سياسي برخه کي يې تر لاسه کړه له دې وروسته نوموړي په هېواد کي د سياسي اصلاحاتو سربېره اقتصادي، نظامي، فرهنګي او کلتوري برخو کي هم ابتکاراتو ته مخه کړه.[٦]

---

١ https://en.wikipedia.org/wiki/Amanullah_Khan
Amanullah Khan
٢ https://www.khaama.com/mausoleum-of-king-amanullah-khan-to-be-reconstructed-٤٥٧٠/
Mausoleum of King Amanullah Khan to be reconstructed
٣ https://en.wikipedia.org/wiki/Afghan_Civil_War_(١٩٢٨%E٢%٨٠%٩٣١٩٢٩)
Afghan Civil War (١٩٢٨–١٩٢٩)
٤ https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-٤٥٢٣٩٩٣٦
شاه امان الله خان او د افغانستان خپلواکي
٥ http://www.bakhtarnews.com.af/eng/politics/item/٢٩٧٠٣-ghazi-amanullah-khan-delivers-fruitful-services-to-afghanistan.html
Ghazi Amanullah Khan Delivers Fruitful Services To Afghanistan
٦ http://outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=٢١٢٥٤
Afghanistan’s Women and Desire for Political Power (part ١)
Read more: http://outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=٢١٢٥٤#ixzz٦C٧EO٩K٣١



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د وخت د مشرانو د معلوماتو په اساس، چې د افغانستان په تاريخ کې یو پاچا هم د خپل هېواد له پرمختګ سره دومره مينه او عجله نه درلوده لکه امان الله خان چې درلوده. امان الله خان په دې پوهېده، چې افغانستان د آسيا په زړه کې پروت دی. افغانستان د آسيا جنوب او جنوب – ختيځ هېوادونه له منځنۍ آسيا سره نښلوي. دغه راز د ورېښمو تاريخي لاره هم د افغانستان له خاورې تېره شوې وه او د نړۍ ګڼ‌هېوادونه او لويې وچې يې سره نښلولې. هغه وخت هم لکه د نن په څېر د ټولې سيمې او ان نړۍ د نښلولو موضوع مطرح وه. هغه وخت او اوس اقتصادي شرايط داسې دي، چې د سيمې هېوادونه له یو بل سره له همکارۍ پرته پرمختګ نه شي کولای. که همدا خپله سيمه راواخلو او ورته ځير شوو نو ګورو، چې د آسيا د جنوب او جنوب – ختيځ هېوادونه د خپل اقتصادي ماشين د چلولو لپاره انرژۍ ته ډېره اړتيا لري.[٧]

که دا هېوادونه انرژي ترلاسه نه کړي، نو د صنعت د ودې بهير يې په ټپه درېږي. د منځنۍ آسيا هېوادونه بيا د انرژۍ پرېمانه زېرمې لري. که د آسيا د لويې وچې د دغو دوو مهمو برخو تر منځ همغږي او همکاري وي، نو بيا دواړه بنه پرمختګ کولای شي، دواړه د یو بل اړتياوې پوره کولای شي. افغانستان بيا د دغو دواړو په منځ کې پروت دی. د افغانستان له ونډې پرته د دغو دواړو تر منځ همغږي او همکاري رامنځ ته کېدای نه شي. نو د افغانستان رول په سيمه‌ييزو همکاريو کې هغه وخت او اوس برخليک ټاکونکی دی نو له همدې امله امان الله خان غوښتل چې د افغانستان له مهم جيو اکانوميکي موقعيت نه په ګټې اخستلو سره د پرمختګ پړاوونه ووهي.[٨] [٩]

شاه امان الله خان مثبت بدلون له ځان، کورنۍ له غړو او د دربار له لوړ رتبه مامورينو پيل کړ، د وخت د انګلستان د سفارت نظامي آتشه په خپلو يادښتونو کې ليکي، چې امان الله خان اصلاحات لومړی د خپل کورنۍ په غړو عملي کړل، د کابل په ښار کې ځيني باغونه، چې د دوی د کورنۍ د غړو اړوند ؤو له هغه څخه يې راګرځول شوي دېوالونه لرې کړل تر څو په دې کار سره د ښار ښکلا زياته شي.[١٠]

افغان مؤرخ پيکار پامير ليکي، چې امان الله خان په دې باندې پوهېده که اوبه له منشاء يا هم له چينې ککړې وي نو د هغه پاکول په فرعي څانګو کې ناشونې خبره ده نو اړتيا ده چې له هغه ځايه يې مخنيوی وشي، چې اړين دي په لومړي قدم کې شاه امان الله خان هغه ښځې او نارينه چې د پلار په وخت کې يې په دربار کې ساتل کېدل ټول رخصت کړل او هغه کسان چې د ده د بابا (امير عبدالرحمن خان) له وخت نه د غلامانو په شکل ساتل کېدل هغه ته آزادي ورکړل شوه.[١١]

همدارنګه يې د زياتو ښځو سره نکاح کول هم د ده له لوري ممنوع اعلان شول او ده هم يوه ښځه درلوده هغه هم د محمود بېګ طرزي لور وه، او په درباري چارو او نورو دولتي ځايونو کې يې له اضافي مصارفو نه مخنيوی وکړ همدارنګه يې په خپله شخصي لباس له وطني توليداتو، چې جوړېدلو استعمالولو او له ټولو دولتي چارواکو او وطنوالو نه يې هيله وه، چې له خپلو وطني توليداتو استفاده وکړي تر څو په دې سره داخلي صنايع تقويه شي، حتی يو له هغو همکارانو نه يې، چې غير وطني لباس نه يې استفاده کوله بېدون د کوم رعايت نه يې د هغه لباس د ټول پر وړاندې په قيچې غوڅ کړلو تر څو نورو ته پند شي.[١٢]

همدا ډول هغه مستمر معاشونه، چې قومي مشرانو او درباريانو ته ورکول کېدل بند شول، او هغه سردارانو ته چې ډېرې مودې به د ارګ له آدرس نه د دوی کورنيو او مهمانخانو ته اعاشه ورکول کېدله هم پرې بنده شوله، او اعلان يې وکړ، چې څوک کار کړي او زحمت وباسي هغې ته بايد امتيازات ورکړل شي او څوک چې کار نکړي هغه ته بايد امتياز ورنکړل شي هغه که هر څوک وي.[١٣]

---

[٧] Adamec, Ludwig W. ١٩٦٧. Afghanistan, ١٩٠٠–١٩٢٣: A Diplomatic History. Berkeley, Calfornia: University of California Press. Afghanistan, ١٩٠٠-١٩٢٣ a diplomatic history

[٨] Asta Olesen, Islam and Politics in Afghanistan (Richmond: Curzon Press, ١٩٩٥), ١١٨.

[٩] ٣ Amin Saikal, Modern Afghanistan, A History of Struggle and Survival (London and New York: IB Tauris, ٢٠٠٤), ٧٣–٩٢

[١٠] Saikal, Modern Afghanistan, ٤٨.

[١١] According to Max Weber, the centralisation of administrative functions and authority is essential in the transition to a nation state. See Max Weber, "Politics as a Vocation," in Max Weber: Essays in Sociology, ed. H.H. Gerth, ٧٧-١٢٨ (London: Routledge, ١٩٤٨), ٨٢; Saikal, Modern Afghanistan, ٧٣.

[١٢] http://press-files.anu.edu.au/downloads/press/n١٦٧٣/pdf/andrew_chua.pdf
The Promise and Failure of King Amanullah's Modernisation Program in Afghanistan

[١٣] http://eprints.lib.okayama-u.ac.jp/files/public/١/١٢٤٠٤/٢٠١٦٠٥٢٧١٩٢٨٥٣٦١٩٨٧٩/٣٨_٤_٠٠١_٠١٩.pdf
What, How and Why Happened in Afghanistan?: A Study of Political Economic History of the Early ٢٠th Century‡


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولۍ

**له اصلاحي تغیراتو څخه د شاه موخې:**

له مطلقه شاهي رژیم نه پیروي، چې پایله یې د شاه امان الله خان رسېدل ؤو قدرت ته او د شاه امان الله خان موخه د یو نوی سیاسي نظام جوړول ؤو، د خپلواکۍ د اخستلو ترڅنګ په مختلفو برخو کې که هغه اقتصادي برخه وه یا سیاسي برخه وه د مثبت بدلون د راتلو په موخه د اوږده مهاله او لنډ مهاله پلانونو جوړول او د یوه مشروطه حکومت تأسیس تر څو وکولای شي، چې په مهمو تصمیمونو کې ملت هم برخه ولري قدمونه واخستل، که څه هم مشروطه خواهانو تر ۱۹۲۸م کال پورې په دې ونتوانېدل، چې کوم سیاسي حزب رامنځته کړي. اما په آزاد ډول یې خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړه او د انتقاد او قضاوت کړلو واک یې د دولت پر وړاندې د ځوانانو په مابین کې خپور کړ.[١٤]

له مثبت بدلون (اصلاحي تغیراتو) څخه د شاه امان الله خان موخه دا وه، چې په لومړي قدم کې ملي یووالي رامنځته کړي او وروسته د هېواد پرمختګ، متوازنه وده او پرمختیا وه، د شاه زیاته توجه دې ته وه، چې یو آزاد او په خپلو پښو ولاړ مرکزي حکومت رامنځته کړي تر څو خلک له سمتي، ژبني او مذهبګرایۍ څخه قانون او د هغه مشروعیت ته ترجیع ورکړي نو په همدې خاطر یې د افغانستان ولایتونو ته سفرونه پیل کړل، چې د دې سفرونو په لړ کې مشرقي ولایتونو (ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان) ته دوه ځل، جنوبي ( زابل، کندهار، هلمند، اروزګان او فراه) ولایتونو او د افغانستان شمال ته یې سفرونه تر سره کړل، هلته یې د دولتي ادارو ارزونه او د قانون له تطبیق څخه ځان خبر کړ، او د یوه باثباته او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان جوړولو په پار یې د خلکو مشورې واخستلې او خلکو ته یې د قانون د تطبیق او حمایت غوښتنه یې ترې وکړه، همدارنګه یې د حکومتي خدماتو په وړاندې کولو کې دوی ته ډاډ ورکړ، چې مثبت تغیرات به راځي. په دې سفرونو کې له ده سره د مختلفو وزارتونو مامورین هم ملګري ؤو، تر څو په دې سره د دوی په ذهن کې د قانون تطبیق ځای ونیسي همدارنګه یې عامو خلکو ته دا ښودله چې دوی د قانون له تطبیق سره آشنا شي. همدارنګه هغه مامورینو چې هغه به خپل کارونه په ښه توګه نه ؤو ترسره کړي هغې ته د قانون مطابق جزا ورکول کېدله او کومو به، چې په ښه ډول تر سره کړي ؤو هغه ته مکافات په نظر کې نیول کېدل. امان الله خان هڅه کوله چې د بنیادي کارونو په تر سره کولو او د مرکزي حکومت په تقویه کولو سره افغانستان له اقتصادي اړخ نه په خپلو پښو ودروي. د ده په وخت کې د اکثرو نظامنامو موخه د یوه مرکزي سیستم رامنځته کول ؤو، چې تر څو هغه ته په مختلفو ولایتي، ولسوالیو او کلیو په سطحه پراختیا ورکړي. همدارنګه د ځینو نظامنامو موخه د دولتي عوایدو زیاتوالی، د ملي عوایدو د جمع کولو بهتر کول، د امنیتي وضعیت بهبود، د ښو خدماتو ارایه (تعلیم او تربیه، روغتیایي خدمات ، ودانیزې چارې، ترانسپورتي خدمات) اقتصاد وده (صنعت، معادن، سوداګري، کرنه او مالداري او ملي اقتصاد)، همدارنګه کلتوري او اجتماعي اصلاحات راوړل تر څو په دې سره خپل افغاني هویت په نړیواله سطحه تثبیت کړي.

**بدلون په درېیو مرحلو کې**

**۱- د اصلاحي پروګرامونو د تطبیق دوره:**

لومړی مرحله له ۱۹۱۹م کال نه تر ۱۹۲۳م کال پورې په یاده دوره کې، چې د اماني اصلاحاتو کامیابه دوره په نوم نومول شوې ده، په یاده دوره کې افغانستان لپاره یې سیاسي استقلال ترلاسه کړ، په پایله کې یې د افغانستان په خلکو او د جنوبي او مرکزي اسیا په مسلمانانو کې د امان الله خان مشروعیت ډېر کړ، او امان الله خان هم د خودکفایي په موخه د اصلاحي پروګرامونو لړۍ پیل کړه په لومړیو کې شاه چې د هېواد چارې وردې غاړې شوې او کومې بهرنۍ مرستې چې د اشغال په وخت کې کېدلې هم په مکمل ډول بانديز بندې شوې او د شاه پر وړاندې داخلي او بیروني دسیسو هم د زیاتېدو پړاونه وهل نو له همدې امله شاه امان الله خان له سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ شو، خو ده د دې ستونزې د مخنیوي لپاره له شوروي اتحاد، ترکیې ،المان، فرانسي او له ایټالیې یوځې او فني مرستې ترلاسه کړې، خو دغو مرستو ونه کړای شول چې د بریتانیې د منظمې یاراني ځای ونیسي نو د خپلو اصلاحي پلانونو د تر سره کېدو په پار له هر بل وخت نه زیات یې د تطبیق په هڅه کې شولو تر څو وکولای شي، چې افغانستان په اقتصادي لحاظ د نورو له احتیاج نه وباسي نو د افغانستان د عصري کولو لپاره د اقتصادي او سیاسي جامع اصلاحاتو نوی رژیم یې پیل کړ، په دې مرحله کې افغانستان د «ملتونو د ټولنې» چې وروسته یې نوم په ملګرو ملتونو واوښت، یوازنی اسلامي هېواد شو چې د یاد سازمان غړیتوب یې تر لاسه کړ، دولت د عایداتو د پیاوړتیا لپاره د حقوقي نظام طرحه جوړه او پلي کړه، د مالیاتو د نوي قانون وضعه کول او د مالیاتو د مدیریت سمبال او مالیات یې متمرکز کړل. مالیاتي سېستم یې په منظمه توګه تنظیم او غیر نقدي مالیې له منځه یوړې او له هغې وروسته مالیه ورکوونکي مکلف ؤو، چې خپله مالیه په نقده توګه دولت ته ورکړي. پر ځمکه د مستقیمو مالیاتو بیه لوړه او پورونه ډېر شول، چې په ټوله کې په پنځو کې درې مالیه له کورنیو عوایدو تر لاسه کېده. دولت ګمرکي دندې اسانه کړې خو بیا هم د مالیاتو راټولول سخت ؤو او دولت له خانانو او سرحدي قبایلو سره چې تر ډېره حده یې له سرحدي

---

[١٤]سلطنت امان الله شاه واستقلال مجدد افغانستان(تالیف ١٣٦٤ش- چاپ قندهار ١٣٩٦)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

قاچاقه ګټه اخیسته، په شخړه کې وو. حکومت د محمد زایانو، مذهبي متنفذینو او د قبایلو د مشرانو تنخواګانې او امتیازونه ختم کړل، چې دا کار د هغو او شاه ترمنځ د لویې نارضایتی لامل شو. دولت د ټولو وګړو د حقونو د ډېرولو او د مسؤولیتونو د برابرولو په خاطر، په غیر مسلمانانو جزیه لغوه کړه، اساسي قانون او لویه جرګه د ملت د عالي استازي په توګه جوړه او شاه امان الله خان په خپله دوره کې درې ځلې دایره کړه. بودجه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۲ میلادي کال کې معرفي شوه او افغانۍ په ۱۹۲۳م کال کې د نوي پولي واحد په توګه بدله شوه. په کابل کې د دفتري اصولو ښوونځی د دې لپاره تاسیس شو، چې د دولت د مالي مدیریت ظرفیتونه جوړ کړي، څو د خپلو فارغ التحصیلانو د ګمارلو له لارې له مالي مهمو منصبونو سره مرسته شوې وي. سربېره پر دې امان الله خان د وزیرانو شورا تر خپل ریاست لاندې تاسیس کړه. امان الله خان په ټولنیزو اصلاحاتو کې غلامي په رسمي توګه لغوه کړه او د روزنې سېستم یې پراخ کړ چې په دې کې د ښځو رسمي روزنه او د دیني مدرسو اصلاح شامله او د عسکري خدمت دوره اجباري شوه. همداشان دولت هڅه وکړه، چې د ډېرو ښځو کول، د ماشومانو ودونه او د بدو (د اختلافاتو په حل او فصل کې د ښځو بدلول) محدود کړي سربېره پر دې حکومت د کورنیو د مسایلو قانون معرفي کړ، چې دولت ته یې اجازه ورکوله چې د کورنیو په خصوصي حوزه کې مداخله وکړي، هغه څه چې پخوا نه عملي کېدل.

**۲- د منګلو پاڅون:**
یاده مرحله، چې د ۱۹۲٤ نه تر ۱۹۲۸م کال پورې وه د انتقالي مرحلې په نوم نومول شوې ده په دې مرحله کې کوم د یادولو وړ د پرمختګ کار نه دی تر سره شوی ځکه د دې مرحلې له پیل سره د منګلو د پاڅون موضوع وه، چې په ډېری اصلاحي کارونو یې خپل سیوری وغوړاوه او دوه ځل نېږدې وه، چې مرکزي حکومت رانسکور کړي، کله چې د منګلو خلکو د حکومت ضد پاڅون وکړ نو شاه مجبور شو، چې ولایتونو ته سفر وکړي. نوموړی خوست ته لاړ هلته یې له نېږدې د خلکو ستونزې واورېدې او د حل په موخه یې لازم اقدامات وکړل خو دې کار کومه مثبته پایله نلرله ځکه دې کار داسې نمایشي او تفتیش بڼه یې درلوده که څه هم په لومړي سر کې کارونو ته د رسېدګی په موخه جدي اقدامات کېدل خو له لنډې مودې وروسته بېرته سقوط کېدل، مخصوصاً هغه کارونه، چې د حکومت په لوړ رتبه مامورینو پورې اړوند ؤو یا هم د شاه له کورنۍ سره اړوند چارواکي ؤو، په عمومي ناستو کې به په دوی باندې انتقاد کېده او له دندې به لرې کېدل خو په یو څه مودې وروسته د متنفذو اشخاصو له لورې وساطت کېده بېرته به په دندو ګمارل کېدل. حقیقت دادی، چې خپله شاه له زړه نه د بنیادي او مثبتو اصلاحاتو د راوستلو لېواله ؤو، اما د سنتي، قومي او کورني عواملو په اساس یې نشو کولای، یوه سالمه او عصري اداره رامنځته کړي.

**۳- اروپا ته سفر او په نوې نظریه سمبال پخوانی شاه:**
شاه امان الله خان په ۱۹۲٦م کال کې د امیر لقب په شاه باندې بدل کړ، نوموړي په ۱۹۲۷م کال کې د دسمبر په ۱۵ مه نېټه باندې د یوه پلاوي په ملتیا شپږ میاشتنی سفر اروپا ته تر سره کړ یاد سفر ته یې د افغانستان پېژندنې نوم ورکړ.[۱۵]
شاه امان الله د ۱۹۲۷م کال د ډسمبر په ۱۵مه له ۳۱ کسیز پلاوي سره د کندهار له لارې هند ته لاړ، ملکه ثریا لومړنۍ افغان ملکه وه، چې بهرنی سفر یې وکړ، زوی یې رحمت الله شپږ کلن ؤو، چې درملنې ته یې اړتیا درلوده او په دې سفر کې له شاه سره ملګری ؤو.[۱٦]
همدارنګه دوه وروڼه یې عبدالوهاب طرزي او عبدالتواب طرزي، د ملکې مرستندویان او نور کسان لکه: والي علي احمد خان (چې شاه له ده پرته په کابل کې د هغه پاتې کېدل تاواني ګڼل)، د دربار وزیر محمد یعقوب خان شاغاسي، د دولت د شورا رئیس سردار شیر احمد خان، سردار محمد حسن خان، د حربیه وزارت معین حبیب الله خان، د هرات د عسکري قومندانی فرقه مشر عبدالرحمن، د بهرنیو چارو وزارت د اسلامي هېوادونو د څانګې مدیر غلام یحی خان طرزي، په بهرنیو چارو وزارت کې د شفر اداري مدیر محمد امین خان دروازي، د بهرنیو چارو وزارت وکیل غلام صدیق خان چرخي...» د دې تر څنګ څو تنه ژباړونکي او د پلاوي نور غړي ورسره په دې سفر کې ملګري ؤو.[۱۷]
شاه امان الله پخپله د دې سفر اړوند یو لیک کې د سفر موخه نورې نړۍ ته د خپل هېواد وريپژندل یاد کړي ؤو، له هغوی سره اړیکي جوړول او له هغوی نه د څه اخیستل ذکر کړي دي، خو دا چې د هېواد وضعیت ته په کتو د دومره مهمو چارواکو په تېره بیا پخپله د شاه سفر مهم ؤو؟ کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي لیکي: «ظاهراً خو

[۱۵] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-٤٩١٢٢٩٥٥
د امان الله خان د واکمنۍ او جلاوطنۍ په اړه نوې څېړنې او موندنې
[۱٦] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-٤٩٣٢٤٤٦٩
اروپا ته د امان الله خان لومړی سفر
[۱۷] سفرهای غازی امان الله شاه در ۱۲ کشوراروپا وآسیا(کابل ۱۳٦٤)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا ستر توپاني کار ښه جلوه درلوده، ولې بې وخته ؤو، خاصتاً دا چې بیا په دغه مسلط بحران کې دې سفر شېږ میاشتې ونیولې... دا خبره البته بې ځایه نه ده، چې دغه سفر هم لکه ځینې نور کارونه د امان الله خان له عجلې څخه منبع درلوده«.شاه، په دې اوږده سفر کې هند، مصر، ایټالیا، فرانسې، بلجیم، المان، انګلستان، شوروي، ترکیې او ایران ته لاړ، چې بېرته د هرات له لارې هېواد ته راغی؛ پخپله شاه په هر هېواد کې له هرکلي خوښې ښوودلې او دا سفر یې د ځان او هېواد لپاره ډېر ګټور بللی، کاندید اکاډمیسن محمد اعظم سیستاني د امان الله خان د سفرنامې په حواله لیکي: په دې سفر کې په زیاته اندازه جنګي وسایل، طیارې، موټرونه، د مختلف النوع فابریکو ماشین الات، کرنیز وسایل، ځینو دواګانو د جوړولو وسایل، تراکتورونه او ډېرې هغه وسایل چې د سیمې په هېوادونو کې یې ساری نه لیدل کېده شاه له اروپا څخه وپېرل. په دې سفر کې د شوروي اتحاد له لېنین څخه نیولې، د ایټالیا تر موسولیني، د ترکیې تر مصطفی کمال اتاترک (د ترکیې سیکولریزم پلار) او ایراني رضاشاه پورې له ټولو سره یې لیدنې تر سره کړې دي، د کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي په قول له اتاترک او رضا شاه سره یې خورا اوږدې ناستې تر سره کړې دي.[۱۸]

**د اصلاحاتو نیمګړتیاوې څه وې؟**

د افغانستان نوي له استعمار نه راوتل، د وخت کموالی او د شاه امان الله خان بېړه هغه څه ؤو، چې د افغانستان نوي کولو او پر خپلو پښو درېدو لپاره یې د هغه هڅې او اصلاحي بهیر له خنډونو سره مخ کړ. اروپا ته د سفر پر مهال شاه له نږدې ولیدل، چې افغانستان څومره وروسته پاتې دی. تاریخي یادښتونه وايي؛ شاه د تداوم او بنسټیز بدلون ترمنځ د تعادل موندو پر ځای د هېواد ظاهري عصري کولو لپاره بېړنی پروګرام پیل کړ او پرته له دې، چې په انساني ځواک د پانګونې پایلو ته منتظر شي، د خلکو ظاهري بدلون ته یې ډېر پام واړوه.
د خلکو په فکري ناسازی، وروسته پاتې وضعیت او ناپوهی سربېره بهرنی مداخلې او دسیسې هم د دې لامل شوې، چې د افغانستان د پرمختګ هڅې او اصلاحي پروګرامونه نیمګړي پاتې شي او شورشونو او نظامي لښکرکشیو دغه څېرکی بیخي وتاړه.
د مذهب له زاویې له هرې موضوع سره چلند کوونکو په عقدهیې ډول دغه اصلاحات ونګول او پایله دا شوه، چې اماني دوره ونړېږي. د دغو شایعاتو یو ښه مثال په ۱۳۰۸لمریز کال کې د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې د ځینو مجلو خپرول ښودل کېږي، چې اروپایي هېوادونو ته د شاه د سفر پر مهال خپرې شوې او پهکې په اوازو خورولو سره د شاه د سفر موخه کمرنګه شوه او ان ځای، ځای د ده پر وړاندې پاڅونونو ته هم لار هواره کړه.
یو شمېر تاریخ پوهان په دې نظر دي، چې د افغانستان بیروني دښمنانو له همدې موضوعاتو د فشار په ډول استفاده وکړه او کوم تصویرونه چې د شاه د مېرمنې بهر ته راووتل نو دوی یاد تصویرونه په خلکو ووېشل او داسې تبلیغ یې کړ، چې شاه کله اروپا ته سفر کړی اسلام یې پرېښی دی، دی او کورنۍ یې بې دینه شوي دي.
د حکومتولۍ په چارو کې له خلکو سره کمرنګه مشورې او د تر سره کېدونکو اصلاحاتو په اړه تفصیلي معلومات خلکو په واک کې نه ورکول او په بېړه سره د هر کار ترسراوی هغه څه ؤو، چې د شاه مخه یې را ډب کړه او پر وړاندې یې ستونزې ورځ تر بلې زیاتې شولې.

**اقتصادي او مالي اصلاحات**

په اقتصادي برخه کې اصلاحات د صنایعو له پراختیا څخه پیل شول او افغاني محصولات بهرنیو مارکېټونو ته ورسېدل، بودجه تصویب شوله همدارنګه شاه مالي نظام په بنسټیز ډول بدل کړ او هغه یې د اصولو او قواعدو تابع کړ. په ټوله اماني دوره کې د لګښتونو بودجه له عوایدو لږه وه یا په بله وینا د بودجې کسر نه ؤو. په داسې حال کې چې له امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان سره د انګلستان کېدونکې مالي مرستې د ځوان پاچا په وخت کې بندې شوې وې. د سرو زرو او نقرې د چور او چپاول مخنیوي لپاره کاغذي بانکنوټونه مروج شول.[۱۹]

---

[۱۸] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-٤٩٣٥٤٦١٩
امان الله خان، جلاوطني او ورسره د وخت حکومتونو چلند
[۱۹] https://ashrafghani.af/ps-AF/Home/PublicationDetail/٢
د افغانستان په تاریخ کې نیمګړی څېرکی، ډاکټر محمد اشرف غني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

**کلنۍ بودجه جوړول**

د شاه امان الله خان په مشرۍ ځواکمن او په خپلو پښو ولاړ افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختیا په موخه له تولو وړاندې په ۱۳۰۱ لمریز کال کې د افغانستان د دولت لومړنۍ بودجه جوړه کړه. د یادې بودجې د جوړولو لپاره متخصص ټیم له افغانانو او بهرنیانو جوړ شوی ؤو، چې له جوړېدنې وروسته د وزیرانو شورا ته د تصویب په موخه واستول شوه د یادولو وړ ده، په دې وخت کې یاد کاري ټیم د بودجې په اړه د وزیرانو شورا ته معلومات ورکړل تر څو د بودجې په تصویب کې دوی له ستونزو سره مخ نشي. په همدې کال کې یې د تولید شویو مصنوعاتو د استعمال او په ادارو کې د پېرلو لپاره ځانګړي فرمانونه صادر کړل.




**افغاني محصولاتو ته بازار موندنه**

شاه چې د هند له لارې خپل سفر اروپا ته پیل کړ د سفر یو موخه یې له اروپا او د سیمې هېوادونو څخه لیدنه د اقتصادي اړیکو پراختیا وه، چې شاه په دې سفر کې وتوانېد له ایران، ترکیې، هند او شوروي اتحاد له هېوادونو سره د تجارتي اړیکو د پراختیا لپاره سندونه امضاء کړي او د افغان محصولاتو لپاره د مارکېټ پیدا کولو په موخه یې افغان چارواکي او تجاران یادو هېوادونو ته واستول تر څو دوی وکولای شي په دې برخه کې هلته افغان محصولاتو ته بازارموندنه وکړي نو په دې سره شاه وتوانېد چې د مالیې په راټولولو او د افغان صادراتو په زیاتېدو سره د حکومت اقتصادي ستونزې حل کړي. او د یاد کال په جریان کې یې د افغاني محصولاتو د ښه بازار موندلو لپاره داخلي او بیروني طرزالعمل هم جوړ کړ. همدارنګه په سوداګرۍ کې د کارګرانو او برزګرانو د کار نه وړاندې د هغه د مزد ورکولو، چې پایله یې د شخړو د حل لپاره وه ځانګړې لایحه جوړه او تطبیق شوله. همداراز د دولتي ځمکو، او جایدادونو، دولت اړوند خزانو او عمومي بودیجې لپاره نظامنامه جوړه او خپره شوه او په همدې اړه د پور (قرضې) مسئله هم یکې یادونه شوې ده. تر څو په ذکر شویو برخو کې کارونه آسانه شي. شاه امان الله خان د ۱۳۰۳ لمریز کال کې د کابل ښاروالي تاسیس کړه د ښاروالۍ له جوړېدو نه یې موخه د ښاریانو د ژوندانه د ښه کېدو او په وخت خدماتو رسول ؤو، همدرانګه د کابل ښار د پراختیا او جوړښت د چارو سمون د ښاروالۍ د کار یوه برخه وګرځوله په لومړي کال ښاروالي وتوانېدله، چې د کابل ښار په عواید د هېواد لس سلنه بودجه دوی پوره کړي. په ۱۳۰۵ لمریز کال کې شاه کندهار ته رسمي سفر وکړ او هلته یې د ښارۍ چوپړتیا د سمون په خاطر د تنظیف اداره او په ښار کې د بودجې د منځته راوړلو لپاره په د یاد سفر په جریان کې د کندهار ښاروالي تآسیس کړه او ښاغلي عبدالرحمن لودین یې د هغې مشر وټاکه. د کندهار ښاروالي د لودین په مشرۍ وتوانېدله، چې په لومړي کال راټول شوي عواید مرکزي بانک سره همکاري وکړه.

**د ملي عوایدو څرنګوالی:**

په ۱۲۹۸ لمریز کال کې د حکومت مالي عواید ۴۰/۲ میلیونه افغانۍ ، حکومتي لګښتونه ۳۱ میلیونه افغانۍ او سپما شوي پیسي ۹/۱ میلیون افغانۍ وې. په دغه ډول د ۱۲۹۹ لمریز کال حکومتي مالي عواید ۴۵،۱۱ میلیونه افغانۍ حکومتي لګښتونه ۳٦،٥ میلیونه افغانۍ او سپما شوي پیسي له ۹،۲ میلیونو څخه زیاتي وې. د ۱۳۰۳ لمریز کال مالي عواید ۷٥،٥ میلیونه افغانۍ وې، حکومتي لګښتونه ٦۸،۱ میلیون افغانۍ او سپما شوي پیسي ۷،۱ میلیونه افغانۍ وې. د ۱۳۰٤ لمریز کال ټول مالي عواید ۸٤ میلیونه افغانۍ، دولتي لګښتونه ٦۰،٥ میلیونه افغانۍ او سپما شوي پیسي ۲٥ میلیونه افغانۍ وې. د ۱۳۰٥ لمریز کال مالي عایدات ۷۲،٤ میلیونه افغانۍ دولتي لګښتونه ٥۱ میلیونه او سپما شوي پیسي ۲۳ میلیونه افغانۍ وې . همدارنګه د ۱۳۰٦ لمریز کال مالي عواید ۸۳ میلیونه، دولتي لګښتونه ٦٤ میلیونه او سپما شوي پیسي ۱۸،۱ میلیونه افغانۍ وې. د دې ترڅنګ د وخت له غوښتنو سره سم یوه اندازه سره زر (طلا) او لړ څه قیمتي ډبرې او بهرنۍ اسعار هم په مرکزي خزانه کې موجودې وې، نوله دې څخه دا پایله هم په لاس راځي، چې د حکومت مالي عواید د لګښت په پرتله څو ځله زیات ؤو او هېواد د اقتصادی ودې پرخوا روان ؤو. د دې په څنګ کې د غازي امان الله خان پرضد کورنۍ ستونزې او بهرنۍ دسیسې هم رواني وې، خو بیا هم د غازي امان الله خان کارونه د ښه کنټرول او قوي عزم په درلودلو سره ښه مدیریت شول.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ




**صادرات او واردات:**

کله، چې ځوان شاه د تخت په ګدی کیناست او د افغانستان کنټرول یې له انګلستان نه تر لاسه کړ له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ وو، خو د ده باتدبیره پلانونه چې د هیواد د بنیرازی لپاره یې درلودل په تطبیق سره وتوانید چې د صادراتو کچه، چې په ۱۹۲۰ م کال کې ۵۰ میلیونو فرانکو ته رسیده یاده اندازه په ۱۹۲۵م کال کې له یو بیلیون فرانکو پورې زیاته کړل شوه او له دې سره د افغانیو ارزښت په سیمه کې خورا لوړ شو، نو له همدې امله د سیمې اقتصادي لیکوالان د افغاني صادراتو له حد نه زیات زیاتېدل د ځوان شاه ابتکار یادوي او د نورو لپاره یې مثال یادوي.

**افغانستان او هند سوداګري ( پوند):**

| نمبر | کال | هند ته صادارات | هند نه واردات |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۹۱۸ | ۱۱۹٤۰۰۰ | ۲۰۲۰۰۰۰ |
| ۲ | ۱۹۱۹ | ۱۹۷۵۰۰۰ | ۱٦۰۷۰۰۰ |
| ۳ | ۱۹۲۰ | ۱۵۳٤۲۰۰ | ۱۳۲۸۵۰۰ |
| ٤ | ۱۹۲۱ | ۸۰۹۵۰۰ | ۱۳۵۳۷۰۰ |
| ۵ | ۱۹۲۲ | ۱٦۰٦۱٦۰ | ۱۵۷۵۲٤۰ |
| ٦ | ۱۹۲۳ | ۹۳٤۳۵۰ | ۱۷۲۵۸۵۰ |

**د افغانستان او شوروي اتحاد سوداګري (روبل)**

| نمبر | کال | شوروي اتحاد ته صادارات | شوروي اتحاد نه واردات |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۹۲۳ | ۱۳۱٤۰۰۰ | ٦۹۰۰۰ |
| ۲ | ۱۹۲۵ | ۳۲۷۱۰۰۰ | ۲۵٤۱۰۰۰ |
| ۳ | ۱۹۲٦ | ٤۱٦۰۰۰۰ | ۳٤۲۲۰۰۰ |
| ٤ | ۱۹۲۷ | ٦٦۹۸۰۰۰ | ٦۸٤۹۰۰۰ |
| ۵ | ۱۹۲۸ | ۱۱۷۱۸۰۰۰ | ۷۰۰۷۰۰۰ |


| نمبر | کال | شوروي اتحاد ته صادارات | شوروي اتحاد نه واردات |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۹۲۳ | ۱۳۱٤۰۰۰ | ٦۹۰۰۰ |
| ۲ | ۱۹۲۵ | ۳۲۷۱۰۰۰ | ۲۵٤۱۰۰۰ |
| ۳ | ۱۹۲٦ | ٤۱٦۰۰۰۰ | ۳٤۲۲۰۰۰ |
| ٤ | ۱۹۲۷ | ٦٦۹۸۰۰۰ | ٦۸٤۹۰۰۰ |
| ۵ | ۱۹۲۸ | ۱۱۷۱۸۰۰۰ | ۷۰۰۷۰۰۰ |




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لوڵئ

**د کاغذي پیسو چاپېدل:**
په ۱۲۹۹ لمریز کال کې د لمړي ځل لپاره فلزی پیسو پرځای کاغذی بانکنوټونه په کابل کې چاپ او توزیع شول چې په پښتو ژبه وو.لکه پنځه افغانی، لس افغانی، پنځوس افغانی د یوې افغانی، نیمي افغانی او قیران له نقرې او له هغه څخه چې کم ؤو یاربع یا ثلث ؤو، له مسو، برونزو او المونیم څخه منظور شول او عملاً بازار ته راووتل. له دې خو یوه موخه دا وه، چې مخکې به کوم سره زر او نقره استعمالېدل د هغه مخنیوی وشو او بل په دې سره افغانستان وتوانېد چې خپله سکه ولري.




**د شاه امان الله خان په وخت کې جوړې شوې کارخانې:**
شاه د اروپا په سفر کې د تولیدي کارخانو وسایل وپېرل او یادې کارخانې په کابل، بلخ، کندهار، کندز، ننګرهار او هرات کې په کارونو پیل وکړ، چې عبارت دي له: د کاغذ جوړولو کارخانه، د ساده ټوکرانو کارخانه، د پشمي ټوکرانو کارخانه ، دکشمیري اوبدلو کارخانه، دتازه میوې د ساتنې کارخانه، د اوبو او تېلو د کښلو کارخانې، دلبنیاتو د پروسس او جوړولو کارخانې، سمنټو کارخانې، د اورلګېتو کارخانې، د موټرو د پرزو جوړونې کارخانې، صابون جوړونې کارخانې، عطرو جوړولو کارخانې، د کنګل (یخ) جوړولو کارخانې، د غوړيو کارخانې، باروت جوړلو کارخانې او په لسګونو داسې نورې کارخانې جوړې او په کار یې پیل وکړ، همدارنګه ځیني دولتي شرکتونه هم ولایاتو او کابل کې په کار پیل وکړ، چې عبارت دي له: جرمنی شرکت، تنویر شرکت، د موټر چلولو شرکت، د دوا د تورید او خرڅولو شرکت، د افغان ملګرو شرکت، د افغان تشویق شرکت، افغان اتحاد صنعتي شرکت، په بلخ کې قمر د سوداګریزو توکو شرکت، په کندهار کې د میوې شرکت نوی په کار پیل وکړ.

**د شاه په وخت کې ترسره شوي ودانیز کارونه:**
په ۱۳۰۲ لمریز کال کې د کابل د نوي ښار او د دارالامان تاریخي ماڼی کارونه پیل شول په یادو ساختماني چارو کې جرمني هېواد پوره برخه واخستله او د یادي ماڼی نقشه جرمني انجنیر هارتل جوړه او پیاده کړه، او د کابل هوایي ډګر د جوړېدو چارې له دې وړاندې په ۱۲۹۹ لمریز کال کې پیل شوې وې، د کابل د ده افغانانو او پغمان ترمنځ د اوبو د نل لیکي جوړول هم په ۱۳۰۰ لمریز کال کې پیل شول، دکابل ښار ځو برابره پراخ شو، د کابل او ولایتونو ترمنځ سړکونه جوړ شول او لویې لارې پرانیستل شوې. د کابل او ولایتونو ترمنځ د ټلیفون او ټلګراف لیکې پرانیستل شوې، او له یوې فرانسوی کمپنی سره قرارداد وشو، چې کابل له سویل او شمال سره د رېل پټلی په وسیله ونښلوي، په ولایتونو کې دولتي ادارو ته نوې ودانۍ جوړې شوې، د جبل‌السراج ماڼی ورغول شوه، د کابل ښار د پراختیا او جوړښت د چارو د ښه سمون، د ښاریانو د ژوندانه د لوړتیا او عصري کېدلو او د ښاری چوپړونو د سرته رسولو لپاره د ۱۳۰۳ لمریز کال کې کابل ښاروالی جوړه شوه. همدا ډول د ځمکې د اصلاحاتو قانون جوړ او عملی شو او بزګرانو ته په مرکز او ولایتونو کې په وړیا توګه ځمکې ووېشل شوې او هر چاته د خپلې ځمکې فورمه ورکړل شوه. د کرنې په برخه کې اضافه تولید منځته راغی، چې ورسره صادرات هم اوچت شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ